دافغانستان اسلامي جمهوریت

دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

## فوق العاده ګڼه

• دپیسودوینځلواوله جرمونوڅخه دراپیدا شوو عوایدودمخنیوي دقانون په ځینومادوکې تعدیل

• دافغانستان اسلامي جمهوریت دعلومو اکاډمۍ دقانون داووه ویشتمې مادې اود (۱)ګڼې ضمیمې دځینوموادو تعدیل

• دحق العبوردمحصول دقانون دځینو مادوتعدیل

• دصوتي(غږیزې) ککړتیادراټیټولو اومخنیوي مقرره

• دخصوصي موزیمونو مقرره

• تعدیل دربرخی ازمواد قانون جلوگیری ازپول شویی وعواید ناشی ازجرایم

• تعدیل مادۀ بیست وهفتم وبرخی ازمواد ضمیمۀ شماره(۱)قانون اکادمی علوم جمهوری اسلامی افغانستان

• تعدیل برخی ازموادقانون محصول حق العبور

• مقررۀ کاهش وجلوگیری از آلودگی صوتی

• مقررۀ موزیم های خصوصی

دخپرېدونېټه:د۱۳۹۵ هـ.ش کال د وري دمیاشتې (۳۰)

پرله پسې نمبر:(۱۲۱۰)

تاریخ نشر: (۳۰) حمل سال ۱۳۹۵ هـ . ش

نمبر مسلسل: (۱۲۱۰)

| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | دعدلیـــې وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمـــم:محمد جان | ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت این شماره: (۵۰) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۷۲)صفحه

مطبعه: بهیـــــر

آدرس: وزارت عـــدلیه، ریاست نشرات‌وارتباط‌عـــامه، سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان(شیرپور)کابل

## د صوتي( غږيزې) ككړتيا د راټيټولو او مخنيوي د مقررې د انفاذ په هكله، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس حكم

ګڼه: (۷۲)

نېټه: ۱۰/ ۱/ ۱۳۹۴

**لمړی ماده:**

د صوتي ككړتيا د راټيټولو او مخنيوي مقرره چې د افغانستان اسلامي جمهوريت دكابينې د۱۸/ ۱۱/ ۱۳۹۴ نېټې (۳۹) ګڼه غونډه كې په (۴) فصلونو او (۲٦) مادو په دننه كې تصويب شوې ده، منظوروم.

**دوهمه ماده:**

دغه حكم د يادې شوې مقررې له متن او د كابينې له مصوبې سره يوځای په رسمي جريده كې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

محمد اشرف غني

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

## حكم رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ مقررهٔ كاهش و جلوگيری از آلودگی صوتی

شماره: (۷۲)

تاريخ: ۱۳۹۵/۱/۱۰

**مادهٔ اول:**

مقررهٔ كاهش و جلوگيری از آلودگی صوتی را كه در جلسهٔ شماره (۳۹) مؤرخ ۱۳۹۴/۱۱/۱۸ كابينهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۴) فصل و (۲٦) ماده تصويب گرديده است، منظور می دارم.

**مادهٔ دوم:**

اين حكم همراه با متن مقررهٔ مذكور و مصوبهٔ كابينه از تاريخ نشر در جريدهٔ رسمی نافذ می گردد.

محمد اشرف غنی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

د صوتي( غږيزې) ککړتيا د راټيټولو او مخنيوي د مقررې د تصويب په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د کابينې مصوبه

ګڼه:( ۳۹)

نېټه: ۱۸/ ۱۱/ ۱۳۹۴

د صوتي ککړتيا د راټيټولو او مخنيوي مقرره چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۸/ ۱۱/ ۱۳۹۴ نېټې (۳۹) ګڼه غونډه کې په (۴) فصلونو او (۲٦) مادو په دننه کې تصويب شوه.

محمد اشرف غني

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

مصوبۀ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان

در مورد تصویب مقررۀ کاهش و جلوگیری از آلودگی صوتی

شماره: (۳۹)

تاریخ: ۱۳۹۴/۱۱/۱۸

مقررۀ کاهش و جلوگیری از آلودگی صوتی در جلسۀ شماره (۳۹) مؤرخ ۱۳۹۴/۱۱/۱۸ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۴) فصل و (۲٦) ماده تصویب گردید.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## فهرست مندرجات

## مقررهٔ کاهش و جلوگیری از آلودگی صوتی

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀاول: | مبنی | ۳۰ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۳۰ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۳۱ |
| مادهٔ چهارم: | ساحهٔ تطبیق | ۳۲ |
| مادهٔ پنجم : | منابع مؤلد آلودگی صوتی | ۳۳ |
| مادهٔ ششم : | حد مجاز آلودگی صوتی | ۳۴ |
| مادهٔ هفتم : | ممنوعیت آلودگی صوتی | ۳۴ |
| مادهٔ هشتم : | تعیین مدت رفع آلودگی صوتی | ۳۴ |


## فصل دوم

## ممنوعیت ها و محدودیت های آلوده کنندهٔ صوتی


| | | |
|---|---|---|
| مادهٔ نهم : | ممنوعیت بر وسایل موتور دار | ۳۵ |
| مادهٔ دهم : | استفاده از بلند گو | ۳۷ |
| مادهٔ یازدهم: | انتقال آلوده کنندهٔ صوتی | ۳۸ |
| مادهٔ دوازدهم: | وضع و تطبیق محدودیت ها | ۳۸ |

مادۀ سیزدهم: منع استفاده از هارن................................۳۹
مادۀ چهاردهم: منع استفاده از وسایل و تجهیزات ساختمانی در شب...۳۹

## فصل سوم

## مکلفیت وزارت ها و ادارات

مادۀ پانزدهم: ایجاد مراکز معاینات تخنیکی..........................۴۰
مادۀ شانزدهم: مکلفیت ادارۀ هوانوردی ملکی.........................۴۰
مادۀ هفدهم: مکلفیت وزارت دفاع ملی...............................۴۱
مادۀ هجدهم: احداث و توسعه.........................................۴۱
مادۀ نزدهم: مکلفیت ادارات دولتی و غیر دولتی.....................۴۲
مادۀ بیستم: زون بندی.................................................۴۳

## فصل چهارم

## احکام نهائی

مادۀ بیست ویکم: رسیدگی به شکایات.................................۴۴
مادۀ بیست ودوم: مؤیدات............................................... ۴۵
مادۀ بیست وسوم: وضع لوایح و طرزالعمل ها..........................۴۷
مادۀ بیست و چهارم: همکاری..........................................۴۷
مادۀ بیست و پنجم: نظارت از تطبیق..................................۴۸
مادۀ بیست وششم: انفاذ................................................۴۸

## د صوتي(غږيزې) ککړتیا د راټيټولو او مخنيوي مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د ژوند چاپېريال د قانون د دوه ويشتمې مادې د حکم له مخــې، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د صوتي ککړتيا تشخيص.

۲- له صوتي ککړتيا څخه مخنيوی او د هغې کنترول.

۳- د صوتي ککړتيا د ناوړو اغېــزو راټيټول.

۴- د ژوند چاپېرياليزو معيارونو رعايت او د ژوند چاپېريال ښه کول.

## مقررهٔ کاهش وجلوگيری از آلودگی صوتی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

اين مقرره به تأسی از حکــم مــادهٔ بيست ودوم قانون محيط زيست، وضع گرديده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف اين مقرره عبارت اند از:

۱- تشخيص آلودگی صوتی.

۲- جلوگيری از آلودگی صــوتی و کنترول آن.

۳- کاهش اثــرات ســوء آلــودگی صوتی.

۴- رعايت معيارهای محيط زيستی و بهبود محيط زيست.

## اصطلاحگاني

**درېيمه ماده:**

راتلونکې اصطلاحگانې لاندې مفاهيم افاده کوي:

۱- صوت: هغه غږ چې د اجسامو او جامدو، مايع موادو يا گاز له چټک ارتعاش څخه توليد او د انسان يا حيوان د اورېدو دحس په واسطه درک کېږي.

۲- صوتي ککړتيا:دهغو غږونو خپرېدل زيان راوړونکي دي چې له انساني، تخنيکي او صنعتي فعاليتونو څخه منځته راځي.

۳- صوتي ککړوونکی:دصوتي ککړتيا موُلده ثابته يا گرځنده (سياره) سرچينه ده.

۴- د صوتي ککړتيا مجاز اعظمي حد: د صوتي ککړتيا د منلو وړ حد دی.

۵- ناوړې اغېزې: د انسان، حيوان پر صحت او حواسو او د ژوند پر چاپېريال صوتي زيانونه دي.

۶- سوداگريزه ساحه: مارکيټونه، دوکانونه او سوداگريز دفترونه دي.

## اصطلاحات

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی دراين مقرره مفاهيم ذيل را افاده می نمايد:

۱- صوت: صدايی که از ارتعاش سريع اجسام ومواد جامد، مايع ياگاز توليد وتوسط حس شنوايی انسان يا حيوان درک می شود.

۲- آلودگی صوتی: انتشار صدا های زيان آور است که از فعاليت های انسانی، تخنيکی و صنعتی به وجود می آيد.

۳- آلود ه کنندۀ صوتی: منبع ثابت يا سيار مؤلد آلودگی صوتی است.

۴- حد اعظمی مجاز آلودگی صوتی: حد قابل قبول آلودگی صوتی است.

۵- اثرات ناگوار: اضرار صوتی بالای صحت وحواس انسان، حيوان و محيط زيست است.

٦- ساحۀ تجارتی: مارکيت ها، دکاکين ودفاتر تجارتی می باشد.

۷- د صوتي ککړتیا د زون نقشــه: د ترکنترول لاندې ساحې سروې شــوې نقشه یا پلان دی.

۸- استوګنیزه ساحه: هغه ځای چې د اوسېدنې په منظور ورڅخــه اســتفاده کېږي او دزون په نقشه کې مشخصــه شوې وي.

۹- حساسه ساحه: هغه ساحه چــې د ســـپیڅلو امـــاکنو، روغتونونـــو، زده کړییزو، ښـــوونیزو او تحصـــیلي مرکزونو، استوګنیزې ودانـــۍ، ادارو، کتابتونونو، ژوبڼ، تفریحي پارکونو او هغه ساحې چې د ژونـــد چاپیریـــالیزو مقصدونو ته په پام کې نیول شوي، په (۱۰۰) متري واټن کې موقعیت ولري.

۱۰- د صنعتي زون ساحه: هغه ساحه چې د صنعتي او تولیـــدي تأسیســـاتو لرونکې او د صوتي ککړتیا د زون پـــه نقشه کې مشخص شوې وي.

<u>د تطبیق ساحه</u>

**څلورمه ماده:**

ددې مقررې حکمونه په هغو ساحو کې

۷- نقشۀ زون آلودگی صوتی: نقشـــۀ سروی شده یا پلان ساحه تحت کنترول می باشد.

۸- ساحۀرهایشی:محل که به منـــظور رهایش استفاده میشود، و در نقشۀ زون آلـــودگی صـــوتی مشـــخص شـــده باشد.

۹- ساحۀ حساس: ساحۀ که درفاصلۀ (۱۰۰) متـــری امـــاکن مقدســـه، شفاخانه ها، مراکز آموزشی، تعلیمی و تحصیلی، ساختمان رهایشی، ادارات، کتابخانه ها، باغ وحش، پارک های تفریحی و ساحات که به مقاصد محیط زیستی در نظر گرفته شده، موقعیـــت داشته باشد.

۱۰- ساحۀ زون صنعتی: ساحۀ کـــه دارای تأسیسات صنعتی و تولیدی بوده و درنقشۀ زون آلودگی صوتی مشخص شده باشد.

<u>ساحۀ تطبیق</u>

**مادۀ چهارم:**

احکام این مقـــرره در ســـاحاتی کـــه

چې صوتي ککړتيا د انسان او حيوان د ځورېدو موجب شي، د تطبيق وړ دي.

## د صوتي ککړتيا مولدې سرچينې

**پنځمه ماده:**

د صوتي ککړتيا مولدې سرچينې عبارت دي له:

۱- فابريکې او صنعتي تأسيسات.

۲- کارخانې او توليدي دستگاوې.

۳- ځمکني، هوايي او بحري موټور لرونکي نقليه وسايط.

۴- نظامي تمرينونه.

۵- هوايي ډگرونه، د لېږد رالېږد لارې او د موټوري نقليه وسايلو دايمي تم ځايونه.

۶- د موټوري نقليه وسايطو د ترميم مرکزونه.

۷- د برېښنا د توليد جنراتوررونه، واټرپمپونه،د هوا کمپرسوررونه او لوډسپيکرونه.

۸- د معدنکارۍ فعاليتونه.

۹- نور هغه وسايل چې د صوتي

آلودگی صوتی موجب اذیت انسان و حیوان گردد، قابل تطبیق می باشد.

## منابع مؤلد آلودگی صوتی

**مادهٔ پنجم:**

منابع آلودگی صوتی عبارت اند از:

۱- فابریکات وتأسیسات صنعتی.

۲- کارخانه ها و دستگاه های تولیدی.

۳- وسایط نقلیه موتوردار زمینی و هوایی وبحری.

۴- تمرینات نظامی.

۵- میدان های هوایی، راه های حمل ونقل وایستگاه های دایمی وسایل نقلیه موتوری.

۶- مراکز ترمیم وسایط نقلیه موتوری.

۷- جنرا تور های تولید برق، واترپمپ ها، کمپریسور های هوا و بلندگوها.

۸- فعالیت های معدنکاری.

۹- سایر وسایلی که موجب آلودگی

ککړتیا موجب شي.

## د صوتي ککړتیا مجاز حد

**شپږمه ماده:**

د ژوند چاپیریال ساتنې ملي اداره د صوتي ککړتیا مجاز اعظمي حد د ستندرد د ملي ادارې او اړوندو ادارو په همکارۍ د صوتي ککړتیا ملي ستندرد ته په پام سره برابر او عامه خبرتیا ته رسوي.

## د صوتي ککړتیا ممنوعیت

**اوومه ماده:**

(۱) هر ډول عمل چې له مجاز حد څخه د زیاتې صوتي ککړتیا موجب شي، ممنوع دی.

(۲) د ژوند چاپیریال ساتنې ملي اداره مکلفه ده، له هغو فعالیتونو څخه چې له مجاز حد څخه د زیاتې صوتي ککړتیا باعث کېږي، مخنیوی وکړي.

## د صوتي ککړتیا د رفع د مودې ټاکل

**اتمه ماده:**

(۱) که چېرې د ژوند چاپیریال ساتنې

صوتی گردد.

## حد مجاز آلودگی صوتی

**مادهٔ ششم:**

ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست حد اعظمی مجاز آلودگی صوتی را با همکاری ادارهٔ ملی ستندرد وادارات ذیربط با نظرداشت ستندرد ملی آلودگی صوتی تهیه و به آگاهی عامه می رساند.

## ممنوعیت آلودگی صوتی

**مادهٔ هفتم:**

(۱) هر نوع عملی که موجب آلودگی صوتی بیش از حد مجاز گردد، ممنوع است.

(۲) ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست مکلف است، از فعالیت های که باعث آلودگی صوتی بیش ازحد مجاز می گردد، جلو گیری نماید.

## تعیین مدت رفع آلودگی صوتی

**مادهٔ هشتم:**

(۱) هرگاه ادارهٔ ملی حفاظت محیط

ملي اداره صوتي ککړتیـــا تشـــخیص کړي، موضوع صـــوتي ککړوونکـــی مسؤل ته ابلاغوي او هغه په ټاکلې موده کې د هغې په رفع کولو مکلفوي.
(۲)د صوتي ککړوونکي مسؤل مکلف دی، په ټاکلې شوې موده کې د صوتي ککړوونکي په رفع کولو اقدام وکړي.
(۳) که چېرې د صوتي ککړوونکـــي مسؤل په ټاکلې شوې مـــوده کـــې د صوتي ککړوونکي رفع کولو ته اقدام ونکړي ، د ژوند چاپېريال ساتنې ملي اداره مکلفه ده، د هغهٔ فعالیت د صوتي ککړتیا تر رفع کولو پورې ودروي.

## دوه یم فصل

## د صوتي ککړوونکي ممنوعیتونه او محدودیتونه

**پر موتور لرونکو وسایلو ممنوعیت**

**نهمه ماده:**

(۱) د هغو نقلیـــه وســـایطو ســـیر او حرکت (ګرځېدل راګرځېدل) او لـــه نورو موتور لرونکـــو وســـایلو څخـــه استفاده چې له مجاز حد څخه زیات د

زیست آلودگی صـــوتی را تشـــخیص نماید، موضوع رابه مسئول آلوده کنندهٔ صوتی ابلاغ و وی را درمدت معـــین مکلف به رفع آن مینماید.
(۲) مسئول آلود ه کنندهٔ صوتی مکلف است، درمدت تعیین شده بـــه رفـــع آلودگی صوتی اقدام نماید.
(۳) هر گاه مسئول آلوده کنندهٔ صوتی درمدت تعیین شده به رفـــع آلـــودگی صوتی اقدام نه نمایـــد، ادارهٔ ملـــی حفاظت محیط زیست مکلف اســـت، فعالیت وی را الی رفع آلودگی صوتی متوقف نماید.

## فصل دوم

## ممنوعیت ها و محدودیت های آلوده کنندهٔ صوتی

**ممنوعیت بر وسایل موتور دار**

**مادهٔ نهم:**

(۱) سیر و حرکت وســـایط نقلیـــه و اســـتفاده از ســـایر وســـایل موتـــور دار که بیش از حـــد مجـــاز باعـــث آلـــودگی صـــوتی گـــردد، ممنـــوع

صوتي ککړتیا باعث شي، ممنوع دي.
(۲)د هغو نقلیه وسایطو او نورو موتور لرونکو وسایلو چې د صوتي ککړتیا باعث کېږي، خاوندان مکلف دي، د اړوندو وسایطو او وسایلو دصوتي ککړتیا د خپرېدو د مجاز حد تصدیق لیک، د تخنیکي کتنو له مرکزونو څخه واخلي.
(۳) د نقلیه وسایطو سیر او حرکت او د صوتي ککړوونکو موتور لرونکو نورو وسایلو په کار اچول، ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي تصدیق لیک له درلودلو پرته ممنوع دي.
(۴) د ترافیکو اداره مکلفه ده، د نقلیه وسایطو د تخنیکي کتنو په وخت کې، د صوتي ککړتیا ستندرد رعایت کړي.
(۵) هغه اشخاص چې نقلیه وسایط او موتور لرونکي وسایل، وارد، تولید یا ترمیموي، مکلف دي، د صوتي ککړتیا مجاز حد، په اړوندو وسایطو او وسایلو کې رعایت کړي.
(٦) په نقلیه وسایطو کې د اضافي کمپرېشني هارنونو او غږ لرونکي

است.
(۲) مالکین وسایط نقلیه وسایر وسایل موتوردار که باعث آلودگی صوتی می گردند، مکلف اند، تصدیقنامه حد مجاز انتشار آلودگی صوتی وسایط ووسایل مربوط را از مراکز معاینات تخنیکی اخذ نمایند.
(۳) سیر و حرکت وسایط نقلیه وبکارانداختن سایروسایل موتوردار آلوده کننده صوتی بدون داشتن تصدیقنامهٔ مندرج فقرهٔ (۲) این ماده ممنوع می باشد.
(۴) ادارهٔ ترافیک مکلف است، حین معاینات تخنیکی وسایط نقلیه ، ستندرد آلودگی صوتی را رعایت نماید.
(۵) اشخاصی که وسایط نقلیه ووسایل موتوردار را تورید، تولید یا ترمیم می نمایند، مکلف اند، حد مجاز آلودگی صوتی را در وسایط و وسایل مربوط رعا یت نمایند.
(٦) نصب هارن های اضافی، کمپریشنی وسلنسر صدا دار دروسایط

سلنسر نصبول ممنوع دي.

(۷) هېڅ شـــخص نشـــي كـــولاى كمپرېشني هارنونه وارد او وړانـــدې كړي.

## له لوډسپيكر څخه استفاده

لسمه ماده:

(۱) په پرانستو ټولنو او ځايونو كې له لوډ سپيكر څخه استفاده چې د صوتي ككړتيا باعث كېږي، د ښاروالۍ او د ژوند چاپېريال ساتنې د ملي ادارې لـــه ليكلې اجازې پرته جواز نه لري.

(۲) په سر پټو ځايونو كې له لوډ سپيكر څخه استفاده، د صوتي ككړتيا د ملي ستندرد په رعايتولو سره مجاز ده.

(۳) په مسجدونو او تكاياوو كـــې د آذان په وخت كې له لوډ سپيكر څخه استفاده، د ارشاد، حـــج او اوقـــافو د وزارت د لارښود مطابق صورت مومي.

(۴) د واده د سالونونو مسؤلين مكلف دي د غږ د خپرېدو معياري سيستم د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت په همكارۍ په اړوندو سالونونو كې نصب له غيـــر

نقليه ممنوع مى باشد.

(۷) هيچ شخص نمى تواند، هارن هاى كمپريشـــــنى را توريـــــد وعرضـــــه نمايد.

## استفاده از بلند گو

مادۀ دهم:

(۱) استفاده از بلند گو دراجتماعـــات ومحلات بازكه باعث آلودگى صـــوتى مى گردد، بدون اجازۀ كتبى شاروالى و ادارۀ ملى حفاطت محيط زيســـت جواز ندارد.

(۲) استفاده از بلند گو درمحلات سر پوشيده با رعايت ستند رد ملى آلودگى صوتى مجاز مى باشد.

(۳) استفاده از بلند گو حين آذان در مساجد و تكايا طبق رهنمـــود وزارت ارشـــاد، حـــج و اوقـــاف صـــورت مى گيرد.

(۴) مسئولين سالون هـــاى عروســـى مكلف اند، سيستم معيارى پخش صدا را بـــا همكـــارى وزارت اطلاعـــات وفرهنگ درسالون هاى مربوط نصب

معياري سيستمونو څخه مخنيوی وکړي.

## د صوتي ککړوونکو لېږدول

**يوولسمه ماده:**

که چېرې د ښارونو او د اوسېدنې په ساحو کې صوتي ککړوونکی، ددې مقررې په پنځمه ماده کې له درج شوو فعاليتونو څخه راپيداشوی وي او د هغهٔ رفع کول د هغهٔ له لېږد پرته په بل ډول ممکن نه وي، د ژوند چاپېريال ساتنې ملي اداره، د کورنيو چارو او د ښارجوړولو د وزارتونو او اړوندې ښاروالۍ په همکارۍ د هغهٔ د لېږد طرح برابروي او د حکومت له تصويب وروسته يې تطبيقوي.

## د محدوديتونو وضع او تطبيق

**دوولسمه ماده:**

د ژوند چاپېريال ساتنې ملي اداره د صوتي ککړتيا د ناوړو اغېزو د راټيټولو او له هغې څخه د مخنيوي په منظور، کمي، کيفي، زماني، نوعي او مکاني محدوديتونه او ممنوعيتونه وضع او د

نموده از سيستم های غير معياری جلوگيری نمايند.

## انتقال آلوده کنندهٔ صوتی

**مادهٔ يازدهم:**

هر گاه آلوده کنندهٔ صوتی درمحدودهٔ شهرها وساحات مسکونی ناشی ازفعاليت های مندرج مادهٔ پنجم اين مقرره باشد و رفع آن جز انتقال آنها به محلات مناسب به شيوهٔ ديگری ممکن نباشد، ادارهٔ ملی حفاظت محيط زيست، طرح انتقال و تغيير محل آن را به همکاری وزارت های امورداخله وامور شهر سازی و شاروالی مربوط تهيه وبعد از تصويب حکومت تطبيق می نمايد.

## وضع و تطبيق محدوديت ها

**مادهٔ دوازدهم:**

ادارهٔ ملی حفاظت محيط زيست به منظورکاهش اثرات سوی آلودگی صوتی و جلوگيری از آن محدوديت ها و ممنوعيت ها ی کمی، کيفی ، زمانی، نوعی و مکانی را وضع و بعد از

هېواد له ککړتیا څخه د مخنیوي د عالي کمېسیون له تصویب وروسته تر تطبیق لاندې نیسي.

## له هارن څخه د استفادې منع

**د یارلسمه ماده:**

(۱) د شپې پرمهال له هارن او خبرداري ورکوونکو وسایلو او د اوسېدنې په ساحو کې په نقلیه وسایطو کې له غیر معیاري هارنونو څخه استفاده ممنوع ده.

(۲) د امبولانس، اطفائیې او پولیسو د وسایطو آلارم ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه مستثني دي.

## په شپه کې له ودانیزو وسایلو او تجهیزاتو څخه د استفادې منع

**څوارلسمه ماده:**

د شپې پر مهال د اوسېدنې په ساحو کې له شور ماشور ډکو ودانیزو وسایلو او تجهیزاتو څخه استفاده مجازه نده.

تصویب کمیسیون عالی جلوگیری از آلودگی هوا مورد تطبیق قرار می دهد.

## منع استفاده از هارن

**مادهٔ سیزدهم:**

(۱)استفاده از هارن ووسایل هوشداردهنده درهنگام شب وهارن های غیرمعیاری در وسایط نقلیه درساحات رهایشی ممنوع می باشد.

(۲) آلارم وسایط امبولانس، اطفائیه وپولیس از حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مستثنی می باشد.

## منع استفاده از وسایل و تجهیزات ساختمانی در شب

**مادهٔ چهاردهم:**

استفاده از وسایل وتجهیزات ساختمانی پرسرو صدا، هنگام شب درساحات رهایشی مجاز نمی باشد.

## دریم فصل

## د وزارتونو او ادارو مکلفیت

**د تخنیکي کتنو د مرکزونو جوړول**

**پنځلسمه ماده:**

د کورنیو چارو وزارت مکلف دی، د اړوندو ادارو په همکارۍ د ولایتونو په مرکزونو کې د نقلیه وسایطو او نورو موتور لرونکو وسایلو، د صوتي ککړتیا د تخنیکي کتنو مرکزونه جوړ کړي.

**د ملکي هوایي چلند د ادارې مکلفیت**

**شپاړسمه ماده:**

د ملکي هوایي چلند اداره مکلفه ده، د ټولو ملکي الوتکو چې په افغانستان کې ثبتیږي یا د افغانستان په فضایي حریم کې الوتنه کوي او یا په هوایي ډګرونو کې تګ راتګ کوي، چارې د بین المللي هوایي چلند د سازمان (IOCAO) د ستندردونو مطابق تنظیم کړي.

## فصل سوم

## مکلفیت وزارت ها و ادارات

**ایجاد مراکز معاینات تخنیکی**

**مادۀ پانزدهم:**

وزارت اموراخله مکلف است، به همکاری ادارات ذیربط، مراکز معاینات تخنیکی آلودگی صوتی وسایط نقلیه و سایر وسایل موتور دار را درمراکز ولایات ایجاد نماید.

**مکلفیت ادارۀ هوانوردی ملکی**

**مادۀ شانزدهم:**

اداره هوانوردی ملکی مکلف است، امور تمام طیاره ها ی ملکی را که در افغانستان ثبت می شوند یا درحریم فضایی افغانستان پرواز می کنند و یا درمیدان های هوایی تردد می نمایند، مطابق ستندردهای سازمان هوانوردی بین المللی (IOCAO) تنظیم نماید.

## د ملي دفاع وزارت مكلفيت

**اوولسمه ماده:**

(۱) د ملي دفاع وزارت مكلف دی، د نظامي الوتكو چې د افغانستان په فضايي قلمرو كې الوتنه كوي يا پـر هـوايي ډگرونو كې تگ راتگ كوي چارې د صوتي ككړتيا د مجاز حد له په پام كې نيولو سره تنظيم كړي.

(۲) اضطراري حالات ددې مادې په (۱) فقره كې له درج شوي حكم څخه مستثني دي.

## احداث(جوړول) او پراختيا

**اتلسمه ماده:**

(۱) د هوايي ډگرونو احداث، پراختيا او د ځای بدلون او د لوړ تناژ موتـور لرونكو نقليه وسايطو د دايمي تم ځايونو لېږدول، د ژوند چاپېريال د قـانون د دريم فصل او د ژوند د چاپېريـاليزو اغېزو د ارزونې د مقررې د حكمونـو مطابق صورت مومي.

(۲) صوتي ككړوونكې ادارې د هوايي ډگرونو او د صوتي نورو سـرچينو د

## مكلفيت وزارت دفاع ملی

**مادهٔ هفدهم:**

(۱) وزارت دفاع ملی مكلف اسـت، امور طياره های نظامی را كه درحريم فضايی افغانستان پرواز می كننـد يـا درميدان های هوايی تردد می نمايند با نظرداشت حد مجاز آلودگی صـوتی تنظيم نمايد.

(۲) حـالات اضـطراری از حكـم مندرج فقره (۱) اين مـاده مسـتثنی است.

## احداث وتوسعه

**مادهٔ هجدهم:**

(۱) احداث، توسعه و تغيير محل ميدان های هوايی وانتقال ايسـتگاه هـای دايمی وسايط نقليهٔ موتـوردار بلنـد تناژ مطابق به احكـام فصـل سـوم قـانون محـيط زيسـت ومقـررهٔ ارزيابی اثرات محيط زيستی صـورت می گيرد.

(۲) ادارات آلود ه كنندهٔ صوتی حين احداث، توسعه وتغيير محل ميدان های

احداث، پراختیا او د ځای د بدلون په وخت کې د صوتي ککړتیا د مجاز حد په رعایتولو مکلفې دي.

## د دولتي او نا دولتي ادارو مکلفیت

نولسمه ماده:

(۱) دولتي او نا دولتي ادارې مکلفې دي، د اړوندو پرمختیایي پلانو د طرح او تطبیق په وخت کې، د صوتي ککړتیا مجاز حد په پام کې ونیسي او د صوتي ککړتیا د راټیټولو، رفع او مخنیوي لپاره تدبیرونه ونیسي او عملي یې کړي.

(۲) د عامې روغتیا وزارت، د ژوند چاپیریال ساتنې ملي اداره، ښاروالۍ ګانې او اړوندې ادارې مکلف دي، د متبرکه اماکنو، روغتونونو، زده کړه ییزو، ښوونیزو، تحصیلي او څېړنیزو مرکزونو، کتابتونونو، ښوونځایونو (نمایشګاوو)، ژوبڼ، تفریحي پارکونو، او ساتل شوو ساحو شاوخوا (ماحول) چې له (۱۰۰) مترو څخه لږ نه وي، د حساسو ساحو په توګه اعلام او په نښه کړي.

هوایی و سایر منابع آلوده کنندهٔ صوتی مکلف به رعایت حد مجاز آلـودگی صوتی میباشند.

## مکلفیت ادارات دولتی وغیر دولتی

مادهٔ نزدهم:

(۱) ادارات دولتی وغیر دولتی مکلف اند، حین طرح و تطبیق پـلان هـای انکشافی مربوط، حد مجاز آلـودگی صوتی را درنظر گرفته و تـدابیری را جهت کاهش، رفـع و جلـوگیری از آلودگی صوتی اتخاذ وعملی نمایند.

(۲) وزارت صحت عامه، ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست، شاروالی هـا وادارات ذیربط مکلف اند، سـاحات ماحول اماکن متبرکه، شفاخانه هـا، مراکز آموزشی، تعلیمـی، تحصـیلی وتحقیقی، کتابخانه ها، نمایشگاه ها، باغ وحش، پـارک هـای تفریحـی وساحات حفاظت شده را که کمتر از (۱۰۰) صد متر نباشد به حیث ساحات حسـاس اعـلام وعلامـه گـذاری نمایند.

(۳) د ژوند چاپيريال ساتنې ملي اداره، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او ښاروالۍ ګانې مکلف دي، صوتي ککړوونکې سرچينې، د صوتي ککړتيا د ستندردونو مطابق و څاري او کنترول يې کړي.

## زون بندي

**شلمه ماده:**

(۱) ښاروالۍ ګانې مکلفې دي، له اړوندو مسئولينو سره په هم غږۍ کې د حساسو زونونو او صوتي ککړتيا د سرچينو نقشه، د صوتي ککړتيا د ستندردونو د وضع په منظور برابره او د ژوند چاپيريال ساتنې د ملي ادارې په واک کې ورکړي.

(۲) ښاروالۍ ګانې مکلفې دي، د ژوند چاپيريال ساتنې د ملي ادارې په همکارۍ ټولې صنعتي، سوداګريزې، استوګنيزې او حساسې ساحې له صوتي ککړتيا څخه د مخنيوي په منظور، د صوتي ککړتيا، ملي ستندردونو ته په پام سره زون بندي کړي.

(۳) ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست، وزارت اطلاعات وفرهنگ و شاروالی ها مکلف اند، منابع آلود ه کنندهٔ صوتی را مطابق به ستندردهای آلودگی صوتی نظارت وکنترول نمایند.

## زون بندی

**مادهٔ بیستم:**

شاروالی ها مکلف اند، درهمآهنگی با مسئولین ادارات ذیربط نقشه زون های حساس ومنابع آلوده کنندهٔ صوتی را به منظور وضع ستندردهای آلودگی صوتی تهیه وبه دسترس ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست قرار دهند.

(۲) شاروالی ها مکلف اند، با همکاری ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست تمام ساحات صنعتی، تجارتی، رهایشی و حساس را به منظورجلوگیری از آلودگی صوتی با نظرداشت ستندرد ملی آلودگی صوتی زون بندی نمایند.

## څلورم فصل
## وروستني حکمونه

**شکايتونو ته رسيدګي**

**يوويشتمه ماده:**

(۱) د ځمکنيو نقليه وسايطو د صوتي ککړتيا شکايتونو ته رسيدګي، د ترانسپورت وزارت، د کورنيو چارو وزارت د ترافيکو د ادارې او نورو اړوندو ادارو په همکارۍ د ژوند چاپيريال ساتنې د ملي ادارې په واسطه صورت مومي.

(۲) د متضرر (زيان موندي) شخص يا د محل د پوليسو د معلوماتو پربنسټ د صوتي ککړتيا له راپيداشوي آزار څخه د مخنيوي په منظور شکايتونو ته رسيدګي، د ژوند چاپيريال ساتنې د ملي ادارې په واسطه صورت مومي.

(۳) که چيرې ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوي شکايتونه مؤجه وي، د ژوند چاپيريال ساتنې ملي اداره، د صوتي ککړتيا د سرچينې د فعاليت د درولو امر صادروي.

## فصل چهارم
## احکام نهائی

**رسیدگی به شکایات**

**مادۀ بیست ویکم:**

(۱) رسیدگی به شکایات آلودگی صوتی وسایط نقلیه زمینی توسط ادارۀ ملی حفاظت محیط زیست با همکاری وزارت ترانسپورت، ادرۀ ترافیک وزارت امور داخله و سایر ادارات ذیربط صورت می گیرد.

(۲) رسیدگی به شکایا ت شخص متضرر یا بر اساس معلومات پولیس محل به منظور جلوگیری از آزار ناشی از آلودگی صوتی توسط ادارۀ ملی حفاظت محیط زیست صورت می گیرد.

(۳) هر گاه شکایات مندرج فقرۀ (۲) این ماده مؤجه باشد، اداره ملی حفاظت محیط زیست امر توقف فعالیت منبع آلودگی صوتی را صادر می نماید.

(۴) د استوګنیزو کورونو او اپارتمانونو صوتي شکایتونو ته رسیدګي د ګذر د وکیل یا د اړوندې ساحې د پولیسو په واسطه صورت مومي.

(۵) د سرپټو محلاتو او د واده د سالونونو صوتي شکایتونو ته رسیدګي د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په همکارۍ د اړوندې ښاروالۍ لخوا صورت مومي.

(٦) د ژوند چاپیریال ساتنې ملي اداره، له صوتي ککړتیا څخه د راپیداشوي مزاحمت د رفع کولو په اړه د پلټونکو له تصدیق وروسته، د صوتي ککړتیا د سرچینې د فعالیت د درولو (توقف) تصمیم نیسي.

## مؤیدې

### دوه ویشتمه ماده:

(۱)ددې مقررې له حکمونو څخه سرغړوونکی د ژوند چاپیریال ساتنې د ملي ادارې لخوا له احوالو سره سم، په لاندې توګه د نغدي جریمې په ورکړې مکلف کېږي.

(۴) رسیدگی به شکایات صوتی منازل رهایشی واپارتمانها توسط وکیل گذر یا پولیس ساحهٔ مربوط صورت می گیرد.

(۵) رسیدگی به شکایات صوتی محلات سر پوشیده وسالون های عروسی از طرف شاروالی مربوط به همکاری وزارت اطلاعات وفرهنگ صورت می گیرد.

(٦) ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست بعد از تصدیق مفتشین مربوط مبنی بر رفع مزاحمت ناشی از آلودگی صوتی، تصمیم رفع توقف فعالیت منبع آلودگی صوتی را اتخاذ می نماید.

## مؤیدات

### مادهٔ بیست ودوم:

(۱) متخلف از احکام این مقرره از طرف مفتشین ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست حسب احوال طورذیل مکلف به پرداخت جریمه نقدی می گردد:

**۱- د نهمې مادې له (۱ او ٦) فقرو څخه سرغړوونکی(۱۰۰۰) افغانۍ مبلغ.**

**۲- د صوتي ککړتیا د تخنیکي کتنو د تصدیق لیک د نه لرلو په صورت کې (۴۰۰) څلور سوه افغانۍ مبلغ.**

**۳- په نقلیه واسطه کې د نه معیاري هارن د نصب په صورت کې (۴۰۰) څلور سوه افغانۍ مبلغ.**

**۴- د اجازه لیک له لرلو پرته له لوړ سپیکرونو څخه د استفادې په صورت کې (۵۰۰) پنځه سوه افغانۍ مبلغ.**

**۵- د صوتي ککړتیا د مؤلدو بازیچو (د ماشومانو د لوبو شیان) پلورونکي له احوالو سره سم له (۱۰۰) سلو څخه تر (۵۰۰) پنځه سوو افغانیو مبلغ پورې.**

**٦- په حساسو ساحو کې د شپې پر وخت دصوتي ککړتیا له مؤلدو ودانیزو (ساختماني) وسایلو او تجهیزاتو څخه د استفادې په صورت کې له احوالو سره سم، له (۱۰۰۰ تر ۵۰۰۰) یو زر تر پنځو زرو افغانیو مبلغ پورې.**

**(۲) ددې مادې د (۱) فقرې په اجزاوو**

**۱- متخلف از فقره های (۱و٦) مادهٔ نهم مبلغ (۱۰۰۰) هزار افغانی.**

**۲- درصورت نداشتن تصدیق نامه معاینات تخنیکی آلودگی صوتی مبلغ (۴۰۰) چهارصد افغانی.**

**۳- درصورت نصب هارن غیر معیاری درواسطه نقلیه مبلغ (۴۰۰) چهارصدافغانی.**

**۴- درصورت استفاده از بلند گوها بدون اجازه نامه مبلغ (۵۰۰) پنجصد افغانی.**

**۵- فروشندگان بازیچه های مؤلد آلودگی صوتی حسب احوال ازمبلغ (۱۰۰ الی ۵۰۰)صد الی پنجصد افغانی.**

**٦- درصورت استفاده از وسایل وتجهیزات ساختمانی مؤلد آلودگی صوتی هنگام شب درساحات حساس حسب احوال مبلغ (۱۰۰۰ الی ۵۰۰۰) یکهزار الی پنج هزار افغانی.**

**(۲) درصورت تکرارتخلف اجزای**

کې د درج شوې سرغړونې د تکرار په صورت کې، سرغړوونکی د نغدي جريمې په دوه چنده مکلف کېږي.

(۳) ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوي مبالغ د ژوند چاپېريال ساتنې د ملي ادارې لخوا د دولت د وارداتو په حساب بانک ته تحويلېږي.

## د لوايحو او کړنلارو وضع کول

**درويشتمه ماده:**

د ژوند چاپېريال ساتنې ملي اداره کولای شي، ددې مقررې د حکمونو د ښه تطبيق په منظور لايحې او کړنلارې وضع کړي.

## همکاري

**څلېريشتمه ماده:**

د کورنيو چارو وزارت، ښاروالۍ ګانې او اړوندې ادارې مکلف دي، ددې مقررې د حکمونو په تطبيق کې، د ژوند چاپېريال ساتنې له ملي ادارې سره همکاري وکړي.

مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، متخلف به پرداخت دوچند جريمهٔ نقدی مکلف می گردد.

(۳) مبالغ مندرج فقره های (۱و۲) این ماده از طرف ادارهٔ ملی حفاظت محيط زيست به حساب واردات دولت تحويل بانک می گردد.

## وضع لوايح وطرزالعمل ها

**مادهٔ بيست وسوم:**

ادارهٔ ملی حفاظت محيط زيست می تواند به منظور تطبيق بهتر احکام این مقرره لوايح وطرزالعمل ها را وضع نمايد.

## همکاری

**مادهٔ بيست و چهارم:**

وزارت امور داخله، شاروالی ها و ادارات ذيربط مکلف اند، در تطبيق احکام این مقرره با اداره ملی حفاظت محيط زيست همکاری نمايند.

**له تطبيق څخه څارنه**

**پنځه ويشتمه ماده:**

**د ژوند چاپېريال ساتنې ملي اداره، ددې مقررې د حکمونو له تطبيق څخه څارنه کوي.**

**انفاذ**

**شپږويشتمه ماده:**

**دغه مقرره په رسمي جريـــده کــې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.**

**نظارت از تطبيق**

**مادهٔ بيست وپنجم:**

**ادارهٔ ملی حفاظت محيط زيســـت از تطبيق احکام ايـــن مقـــرره نظـــارت می نمايد.**

**انفاذ**

**مادهٔ بيست و ششم:**

**اين مقرره از تاريخ نشـــر درجريـــدهٔ رسمی نافذ می گردد.**

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

## Extraordinary Issue

- **Amendments to some Articles of Law on prevention of Money laundry and proceeds arising from crimes**
- **Amendment to Article (27) and some of the Articles of Annex (1) of Law on Academy of Sciences of Islamic Republic of Afghanistan**
- **Amendments to some Articles of law on transit tax**
- **Regulation on reduction & prevention of noise pollution**
- **Regulation on Private Museums**

**Date:18th April .2016**

**ISSUE NO :(1210)**